مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال: ډاکټر مراد بوفولة
ژباړه: محمد عارف رسولي

۲۰۲۶/۰۵/۲۳

# د تمدني پاڅون ټولنپوهنه:

## ولې ملتونه د ټيکنالوژۍ په واردولو نه، بلکې د انسان په جوړولو رامنځته کېږي؟

هر ځل چې د تمدني پاڅون (نهضت) او رغوني خبره راپورته کېږي، ځیني بیرنی یا ملندې وهونکي غبرونه په هغو تکراري جملو زموږ مخې ته راوځي چې په هر وخت او ځای کې تکرارېږي: «دا فکري عیاشي ده»، «دا خبرې موږ ډېرې اورېدلې دي»، «موږ د ټیکنالوژۍ په عصر کې یو، نه د حلالو او حرامو په عصر کې»، «دا نظریې پرېږدئ او عملي حل لارې راته وښیئ.»

خو دا جملې — په خپل ټولنپوهنیز (سوسیولوژیک) حقیقت کې — د کوم ځواکمن فکر ښکارندویي نه کوي، بلکې د تمدني شعور د یوه ژور بحران ښکارندویي کوي؛ ځکه کومې ټولنې چې د نهضت د شرطونو په اړه د فکر کولو وړتیا له لاسه ورکړې، په تدریجي ډول په داسې مصرفي ټولنو بدلېږي چې تمدن یوازې په مادي توکو کې او پرمختګ په وسایلو رانیولو کې خلاصه کوي. په داسې حال کې چې دوی له هغه بنسټیز عنصر څخه غافل پاتې کېږي چې هر تمدن رامنځته کوي: یعني **انسان**.

دلته هغه څه رابرسېره کېږي چې موږ ورته «**د تمدني پاڅون ټولنپوهنه**» ویلای شو. دا هغه فکري لیدلوری دی چې په دې باور دی چې د وروسته پاتېوالي بحران یوازې د وسایلو یا ټیکنالوژۍ بحران نه دی، بلکې د هغه انسان بحران دی چې خپل تاریخي اغېز او د افکارو په تمدني پروژه د بدلولو وړتیا یې له لاسه ورکړې ده.

«مالک بن نبي» دغه حقیقت ډېر وخت مخکې درک کړی و، کله چې هغه ټینګار وکړ چې د اسلامي نړۍ ستونزه د توکو او وسایلو ستونزه نه ده، بلکې د افکارو ستونزه ده. ټولنه ښایي تر ټولو عصري وسایل وارد کړي، لوړ پوړې ودانۍ جوړې کړي او ټیکنالوژي ترلاسه کړي، خو که چېرې د هغې دننه انسان د داسې فکر له تولیدولو عاجز وي چې پاڅون منسجم کړي، نو هغه ټولنه به لا هم وروسته پاتې وي.

د مالک بن نبي په نظر، تمدن یوازې د مادي شیانو ډېربښت نه دی، بلکې د یوه هڅوونکي فکر په اډانه کې د **انسان، خاورې او وخت** ترمنځ یو ژوندی تعامل دی. له همدې امله، د انسان له جوړولو پرته د ټیکنالوژۍ واردول کټ مټ داسې دي لکه یو پرمختللی ماشین چې د داسې چا په لاس کې ورکړل شي چې نه پوهېږي دا د څه لپاره کاروي او د کوم تمدني هدف لپاره یې متحرک کوي.

د تمدني ټولنې او مصرفي ټولنې ترمنځ توپیر یوازې د وسایلو په درلودلو کې نه دی، بلکې په دې کې دی چې دا وسایل په یوې انساني، اخلاقي او تاریخي پروژې کې په کومه لاره سمبال او وکارول شي.

له همدې امله، جاپان د بېلګې په توګه یوازې له دې امله پرمختګ ونه کړ چې ټیکنالوژي یې وپېرله، بلکې له دې امله یې وکړ چې یو داسې ډسپلین لرونکی انسان یې جوړ کړ چې پر کار، ډله ییز روح، مسؤلیت، وخت او د کار په کیفیت باور لري. همدارنګه، پخپله اروپا یوازې د ماشین له امله ماډرنیزم ته نه ده لېږدول شوې، بلکې د هغو فکري او کلتوري بدلونونو له امله لېږدول شوې چې د اروپا عقل او تفکر یې له سره ورغاوه.

ماشین تمدن نه شي جوړولی که چېرې هغه انسان چې دا چلوي، د شعور او هدف لرلو څخه بې برخې وي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

له همدې ځایه موږ د ځینو هغو خلکو د غلط تصور په لامل پوهېږو چې فکر کوي نهضت او پرمختګ یوازې د ټیکنالوژۍ په واردولو یا د ډیجیټلي انقلاب په لیدلو او ترې اغېزمن کېدلو سره ترلاسه کېدای شي. ټیکنالوژي پخپله بېطرفه ده؛ دا هم د رغونې او ودانولو وسیله کېدای شي او هم د نړولو او شیندلو وسیله.

هغه انسان چې تمدني شعور لري، له ټیکنالوژۍ څخه د پوهې، تولید او تنظیم د رامنځته کولو لپاره کار اخلي، په داسې حال کې چې تمدني ځوړ سره مخ انسان بیا ټیکنالوژي د بېکارۍ، روږدي کېدو، مصرف او بې ځایه بوختیاوو په وسیله بدلوي.

دلته د مالک بن نبي افکار د «طیب برغوث» له سنتي (قوانینو) لیدلوري سره غوټه کېږي، څوک چې ټینګار کوي چې نهضت کومه تصادفي ټوپ وهنه یا چټک تخنیکي پېښه نه ده، بلکې دا یوه قانونمنده پروسه ده چې د تاریخ، ټولنې او کلتور تر قوانینو لاندې راځي. ملتونه په شعارونو، ډیجیټلي احساساتو او موقتي عکس العملونو نه پورته کېږي، بلکې هغه مهال پورته کېږي چې انسان له یو مصرفي موجود څخه په یو فعال موجود بدل شي، چې لیدلوری، رسالت او هدف ولري.

په وروسته پاتې ټولنو کې ربښتینی بحران یوازې د وسایلو کمښت نه دی، بلکې د **«ماتې منونکي انسان»** شتون دی. هغه انسان چې هر څه مصرفوي خو هیڅ نه تولیدوي، د ځان له بدلولو پرته د چټکو حل لارو غوښتنه کوي، او د رواني، اخلاقي یا فکري چمتووالي پرته د تمدني پایلو تمه لري.

له همدې امله مالک بن نبي تمدني نهضت په ساده چمتو شوو تخنیکي پلانونو کې د راغونډولو مخالف و؛ ځکه چې د هغه په اند فکر تر وسیلې مخکې دی او انسان تر توکو لومړیتوب لري. له همدې ځایه د هغه دغه ژوره جمله سرچینه اخلي:

**«څوک چې فکر لري، هغه د وسیلې په موندلو کې نه پاتې کېږي».**

«ژان ژاک روسو» د فرانسې د انقلاب لپاره د فرانسوي ولس لپاره کوم تفصیلي تخنیکي پلان وړاندې نه کړ، مګر هغه د آزادۍ، حاکمیت او کرامت په فکر د فرانسوي انسان شعور بدل کړ، چې وروسته بیا همدا فکر په یو داسې تاریخي ځواک بدل شو چې ټوله ټولنه یې بدله کړه.

فکر کله چې د امت شعور ته ننوځي، په یو داسې تمدني ځواک بدلېږي چې د بنسټونو، وسایلو او نظامونو د جوړولو وړتیا لري. مګر کومه ټولنه چې فکر له لاسه ورکړي، که مادي وسایل هم ولري، بیا هم د هغو په یو ربښتیني تمدني نهضت بدلولو کې عاجزه پاتې کېږي.

له همدې امله «محمد البشیر الإبراهیمي» له خپلواکۍ وروسته ویلي وو:

**«استعمار ستاسو له خاورې ووت، مګر ستاسو له عقلونو او زړونو څخه نه دی وتلی».**

ابراهیمي دې ته اشاره کوله چې سیاسي ازادي بسنه نه کوي که چیرې انسان له رواني او فکري پلوه غلام پاتې شي، ځکه تر ټولو خطرناک استعمار د فکرونو استعمار دی؛ کله چې انسان په خپل تمدني ځان باور له لاسه ورکړي او د نورو په یو ساده تقلید کوونکي، او د هغوی د افکارو او معیارونو په مصرفوونکي بدل شي.

دا پخپله دا روښانه کوي چې ولې نن ځینې خلک د انسان د جوړولو، ارزښتونو یا شعور په اړه په هر ډول خبرو پورې ملنډې وهي؛ ځکه چې دوی تمدن ته له یوې سطحي او مصرفي زاویې ګوري چې پرمختګ یوازې په موبایل، موټر او اپلیکیشنونو کې لنډوي، پداسې حال کې چې دوی هېروي دا انسان دی چې ټیکنالوژۍ ته مانا او لوری ورکوي.

کومه ټولنه چې خپل اخلاقي نظام له لاسه ورکړي، ښایي تر ټولو عصري ټیکنالوژي ولري خو له دننه څخه په یوې کمزورې او ماتېدونکې ټولنې بدلېږي. له همدې امله موږ ګورو چې ډېری تخنیکي پرمختللې ټولنې په ورته وخت کې د کورنیو له پاشل کېدو، رواني یوازېتوب، ځانوژنې او ډیجیټلي روږدي کېدو څخه رنځ وړي، ځکه چې مادي پرمختګ کله چې له ارزښتي جوړښت څخه جلا شي، په داسې یو ځواک بدلېږي چې روح نه لري.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د حلالو او حرامو په اړه خبرې چې ځينې خلک ورباندې ملنډې وهي، يوازې يو تنګ فقهي بحث نه دی لکه څنګه چې سرسري خلک يې انګېري، بلکې دا په خپل جوهر کې د هغه اخلاقي وجدان جوړول دي چې انسان ته د داسې ټولنيز کنټرول وړتيا ببښي چې د هغه چلند تنظيم کړي او د هغه انرژي په يوه متوازنه تمدني پروژه کې دننه کړي.

تمدن يوازې دا نه دی چې موږ په شو شيان څنګه جوړ کړو، بلکې دا دی چې موږ په شو ولې يې جوړوو، څنګه يې کاروو، او د کوم انساني او اخلاقي هدف لپاره يې متحرک کوو.

تر ټولو خطرناک څه چې سطحي مصرفي کلتور توليد کړي، هغه د انسان اړول دي له «د خپل مادي شتون له جوړونکي» څخه په يو ساده «ګرندي مصرفوونکي» باندې. او د ټولنيزو رسنيو تر ټولو خطرناکه پايله د ډيجيټلي رسنيو ترمنځ د «ورک شوي انسان» رامنځته کول دي، چې ځينې خلک د افکارو ارزښت د لايکونو په شمېر او د فکري ژورتيا کچه د هغې د خپرېدو په چټکتيا اندازه کوي. په داسې حال کې چې لوی تمدنونه هيڅکله د «ټرينډ» په منطق نه دي جوړ شوي، بلکې د فکر په ژورتيا، د عزم په اوږدوالي، په پرله پسې روزنې او تاريخي صبر سره رامنځته شوي دي.

**له همدې امله، د تمدني پاڅون ټولنپوهنه ټينګار کوي چې نهضت لومړی د انسان له جوړولو پيلېږي:**

- د هغه د شعور، اخلاقو او له وخت، کار، پوهې، مسؤليت او تمدني تړاو سره د هغه د اړيکې جوړول.
- دا انسان دی چې ټيکنالوژي جوړوي، نه برعکس؛ او دا افکار دي چې تاريخ جوړوي، نه يوازې مادي توکي؛ تمدنونه هغه مهال نړېږي کله چې د وسايلو له لاسه ورکولو وړاندې مانا له لاسه ورکړي.

**تمدني قوانين چې موږ يې پر مټ د ناهيلو کوونکو ځواب ورکوو:**

1. پرته له فعال انسان څخه هيڅ نهضت نشي رامنځته کېدای، که څه هم ټول وسايل چمتو وي.
2. ټيکنالوژي په تمدن کې دننه يوه وسيله ده، نه پخپله تمدن.
3. د وسايلو واردول امت نه شي جوړولی که چيرې عقل او فکر مستعار او وارداتي پاتې شي.
4. څوک چې فکر لري وسيله توليدوي، مګر څوک چې فکر له لاسه ورکړي هغه څه مصرفوي چې نور يې توليدوي.
5. تمدنونه د انسان له بدلولو پيلېږي، نه د ظاهري بڼې له بدلولو.
6. ژور شعور تاريخ جوړوي، مګر ملنډې وهل له خالي توب پرته بل څه نه رامنځته کوي.
7. کومې ټولنې چې د خپلو پوهانو فکر ته په سپکه ګوري، په هغو مصرفي ډلو بدلېږي چې هيڅ پروژه نلري.
8. هر رښتينی نهضت له عقل څخه د ماتې منلو د روحيې په له منځه وړلو پيلېږي.
9. د ارزښتونو زوال تل د ودانيو او عمراني زوال څخه مخکې راځي.
10. هغه ملت چې خپل بنسټيز او معياري ارزښتونه له لاسه ورکړي، د ټيکنالوژۍ ډېرښت يې نشي ژغورلی.

په پای کې، هغه پوښتنه چې هرې ټولنې ته په کار ده چې له ځانه يې وپوښتي دا نه ده چې: «موږ څومره وسايل لرو؟» بلکې دا ده : **«موږ د داسې کوم انسان جوړول غواړو؟»**

ځکه که انسان سم شو، وسايل هم سمېږي، او که انسان فاسد شو، پخپله ټيکنالوژي د يوې ځليدونکې عصري پوښ لاندې د وروسته پاتېوالي د لا زياتولو په وسيله بدلېږي.



د ښاغلی محمد عارف رسولی نور مضامين په دی لينک کی لوستی شي



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ